





# د تامپری ښار کتابتون ته ښه راغلاست
# کتابتون د ټولو لپاره دی

کتابتون یو کلتوری مرکز اود مطالعی ځای دی. هلته کولای شی کتاب ولولی، وخت تیر کړی، د انډیوالانو سره وګوری او په ډول ډول غونډوکې ګډون وکړی.
د کتابتون کارکونکی ستاسو په خدمت کی دی، ستاسی سوالونو ته ځواب درکوی او کتابتون درپیژنی. دا کارکونکی په انګلیسی ژبه هم معلومات درکولای شي.

کتابتون د کوچنیانو، ځوانانو، سړو او ښځو له پاره دی. له کتابتون څخه کتابونه، ورځ پاڼی، فلمونه، سیډیګانی، کمپیوټری لوبی او د ژبی د زدکړی مواد په پور اخیستل کیږی. دلته هم د فنلنډی ژبی د زدکړی مواد شته او کولای شی له کمپیوټر او انټرنیټ څخه ګټه واخلی. کتابتون ته راتلل، د موادو پور اخیستل او د کمپیوټر استعمالول وړیا دي.

دا لوی کتابتون د میتسو په نوم یادیږی اود تامپری په ښار کې نور واړه کتابتونونه هم شته. په مرکزد ښار کې د ورځ پاڼو د لوستلو سالون دی چی هلته د نړۍ د هر ګوټ ورځ پاڼی او مجلی شته. کولای شی په خپله ژبه هم د انټرنیټ له لاری ورځ پاڼی ولولی. د تیتو توری (Tietotori) او نیتی نوسی (Netti-Nysse) نه هم کولای شی د کمپیوټر او انټرنیټ په استعمال کی مرسته ترلاسه کړی.

## څنګه کولای شی د کتابتون کارت ترلاسه کړی

هر څوک کولای شی د کتابتون کارت ترلاسه کړی. هر څوک چی غواړی کتابونه په پور واخلی او یا په کتابتون کې کمپیوټر استعمال کړی د کتابتون کارت ته اړتیا لری. تاسو د کتابتون د کارت لاسته راوړلو په وخت کې عکس لرونکی سند ته اړتیا لری. د۱۵ کالو نه کم عمر لرونکی ځوان دکارت په غوښتنلیک کې د خپل مور ،پلار او یا ساتندونکی امضا ته اړتیا لری. د کتابتون کارت وړیا دی او هر څوک خپل کارت لری. خپل کارت بل چا ته مه ورکوی.
که چیری کارت مو ورک شی نو په بیړه کتابتون ته خبر ورکړی. هر کارت خپل رمز (PIN) لری او کولای شی هغه لاسته راوړی. کله چی د پور اخیستلو ماشین یا کمپیوټر استعمالوی او یا د انټرنیټ له لاری کوم څه مواد له مخکی نه ځان ته ساتی (رزرواوی) تاسو دی رمز ته اړتیا لری.

## په پور اخیستل او واپس کول

د پور اخیستلو وختونه د دوه او څلوراونیو لپاره دي. کله چی کوم کتاب یا نور د اړتیا وړ مواد له کتابتون څخه په پور اخلی نو رسید درکول کیږی او په رسید کی د واپس کولو نیټه هم لیکلی وی. که چیری غواړی چې نیټه ئی نوره اوږده کړی نو نیټه نوی کیږی. که چیری د ټاکلی نیټی نه وروسته ئی واپس کړی نو جرمانه به هم ورکوی. د پور اخیستلو او واپس کولو مسئولیت ستاسی دی او هر هغه څوک چی د کتابتون قوانین په نظر کی نیسی د پور اخیستلو حق لری.

## په انټرنیټ کې د کتابتون خدمتونه (pikikirjasto.fi)

په دغه انټرنیټی پته (pikikirjasto.fi) کې د تامپری ښار د کتابتونونو دموادو په اړوند معلومات ترلاسه کولای شی. کولای شی کتابونه، سیډیګانی یا فلمونه د لیکونکی، دمضمون او یا دژبی پر بنسټ ولټوی. کولای شی د انټرنیټ له لاری مواد له مخکی نه ځان ته ریزرو ګړی او د پور اخیستل شوی شیانو نیټه هم اوږده کړی. په دی وخت کی د کتابتون کارت او رمز ته اړتیا لری. د موادو ریزرواول په بیه دی خو د کوچنیانو او ځوانانو کتابونه وړیا دی.

## ښه راغلاست هر کله راشي کتابتون ستاسو لپاره دي

په دغه انټرنیټی پته (www.tampere.fi/kirjasto) کې د تامپری د ښار د کتابتونونو پتي، کاری وختونه او د ټلیفون شمیري او نور اړوند معلومات ترلاسه کولای شي.

*Pääkirjasto Metso*
*Pirkankatu 2*
*Tampere*